## غمونه دهجران

د تا چی راته پاتی دی غمونه د هجران دی
تا هم نظر ونکړ پرما چی څه مي ګذ ران دی
**

نمجن سترګی ځما ته دی هیڅ نظر ونکړ
د وصل په وعدو دی پرما هیڅ اختر ونکړ
راځه اوس راته ګوره چی څیری می ګریوان دی
تا هم نظر ونکړ پرما چی څه مي ګذران دی
**

دا څنګه یارانه وه چی له یاد دی یم وتلی
د ستا د عشق په لاره کی په چیغو یم ژړلی
زخمونه د زړګی می لا علاج او بی درمان دی
تا هم نظر ونکړ پرما چي څه مي ګذران دی
**

ما ستا دعشق په لاره کی کمی هیڅ نه دی کړی
تا څه چي ما ته ویلی ما په سترګوهغه منلی
راځه جانان پخلا شه چی «مل» ډیر پریشان دی
تا هم نظر ونکړ پرما چی څه مي ګذ ران دی
**

پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۵-۱۲-۳۱